مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولی ناروغ

۲۰۲۰/۱۲/۲۹

# کورونا

ساه يې بنده، بنده شوه روغتون ته لاړ
يو قدم نېږدې د مرګ افسون ته لاړ

پيغلې لکه حورې ترې چاپيره شوې
زوړ له سده ووت بل ګردون ته لاړ

پرې ويسته ماشين ته چې هوا ورکړي
بيا له ژونده ځکه د بقا ورکړي

توره شپه پرې واوښته سبا شوله
خوار بوډا په سترګو کې رڼا شوله

نرسه ورته راغله چې خپل کورته ځه
غير د طبيعت ته ـ خپلې مور ته ځه

ځومره چې کولای شې تازه ـ تازه هوا واخله
دا د روغتون بل، زما لخوا واخله

زر يورو تحويل کړه د روغتون د فيس
ځه پر مخ دې ښه مچو له ما واخله

زوړ ايطالوی بوډا په سترګو کې
اوښکه لکه پرخه د سبا راغله

وېکتل آسمان ته چې څه وواېی
تا پاکه هوا مونږ ته وړيا راکړه

يا ربه له سره مو حرص وباسه
زړه ته مود مينې تجلا راکړه

ولی ناروغ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ